# جراحي: پښتو

# Surgery: Pashto

دا معلومات د جراحي عملیاتو (عملیات درلودل) په اړه دي.

ډېر هغه کسان چې سرطان لري، د هغوی لپاره جراحي به د هغوی د درملنې یوه برخه وي.

دا کېدای شي یوازینی درملنه نه وي چې تاسو ورته اړتیا لرئ. ځینې کسان ممکن د سرطان نورې درملنې لکه کیموتراپي یا راډیوتراپي هم ترلاسه کړي. په روغتون کې ډاکټران به ستاسو سره ستاسو د درملنې په هکله خبرې وکړي.

که چیرې تاسو د دې معلوماتو په اړه څه پوښتنې لرئ چې په کوم روغتون کې ستاسو درملنه کیږي نو هلته د خپل ډاکټر یا نرس څخه پوښتنه وکړئ.

تاسو کولی شئ په وړیا ټیلفون **0808 808 00 00** باندې په اونۍ کې 7 ورځې، د سهار له 8 بجو څخه تر ماښام 8 بجو پورې د (Macmillan Cancer Support) مکمیلن کېنسر ملاتړ ته زنګ ووهئ. موږ ژباړونکي لرو، نو تاسو کولی شئ چې زموږ سره په خپله ژبه کې خبرې وکړئ. کله چې تاسو موږ ته زنګ ووهئ نو مهرباني وکړئ موږ ته په انګلیسي کې ووایاست چې تاسو کومې ژبې ته اړتیا لرئ.

دلته macmillan.org.uk/translations د سرطان په اړه ستاسو په ژبه او نورو ژبو کې ډېر معلومات موجود دي.

دا معلومات د دې په اړه دي:

- سرطان څه ته وایي؟
- ستاسو جراح ډاکټر
- تاسو جراحي عملیاتو ته اړتیا ولې لرئ؟
- ایا جراحي عملیات کولی شي سرطان ختم کړي؟
- د جراحي عملیاتو په دوران کې څه پیښیږي؟
- ستاسو د جراحي عملیاتو څخه دمخه
- رضایت ورکول
- بې هوښي ورکول
- ستاسو د عملیاتو په ورځ
- ستاسو له عملیاتو وروسته
- اوږدمهاله اغیزې
- فزیکي او عاطفي بدلونونه
- د خپل ځان لپاره مناسبه پاملرنه او ملاتړ ترلاسه کول
- میکمیلن (Macmillan) له تاسو سره څنګه مرسته کولی شي
- ستاسو په ژبه کې نور معلومات
- مأخذونه او مننې

# سرطان څه ته وايي؟

سرطان زموږ د بدن په حجرو کې بیلیږي. حجرې هغه کوچني واحدونه دي چې زموږ د بدن غړي او نسجونه جوړوي. معمولاً، دا حجرې ویشل کیږي ترڅو نوي حجرې په کنټرول شوي ډول رامینځته کړي. دا هغه طریقه ده چې زموږ بدن پرې وده کوي، شفا مومي او ښه کیږي. څیني وختونه، دا غلط کیږي، او حجره غیر عادي کیږي. غیر معمولي حجرې همداسي ویشل کیږي او نورې ډیرې غیر معمولي حجرې جوړوي. دا حجرې د تومور په نوم یو غده جوړوي.



**نورمال حجرې**

**هغه حجرې چې د تومور جوړولو لامل کېږي**

ټول تومورونه سرطان نه وي. د تومورونو 2 عمومي ډوله شتون لري:

- **بیناین (غیر سرطاني)** – دا تومورونه سرطان نه لري. دا نشي کولی چې د بدن بل کوم ځای ته خپاره شي.
- **مالیګننټ (سرطاني)** – دا تومورونه سرطان لري. دا کولی شي د بدن نورو برخو ته خپاره شي.

په کوم ځای کې چې کله په لومړي ځل سرطان وده پیل کوي، هغه ابتدايي سرطان بلل کیږي. ابتدايي سرطان د بدن له هغه ځایه نومول کېږي، له کوم ځای څخه چې دا پیل شوی وي، د مثال په توګه، د کولمو سرطان.

څیني وختونه، د ابتدايي سرطان حجرې د وینې او لمفاوي سیستم له لارې د بدن نورو برخو ته خپرېږي. دې ته ثانوي سرطان ویل کیږي.

لمفاوي سیستم موږ په انتان او ناروغیو له اخته کېدو ژغوري. دا له نریو نلونو جوړ او دې ته لمفاوي رګونه ویل کېږي. دغه رګونه د بدن په بېلابېلو برخو کې له کوچنیو لمفاوي غدو سره نښتي وي.

## ستاسو جراح ډاکټر

هغه ډاکتر چې ستاسو عملیات کوي جراح بلل کیږي. دا مهمه ده، چې د خپل سرطان د ډول لپاره سم جراح ډاکټر ووینئ. د مثال په توګه، هغه څوک چې د سینې سرطان ولري د سینې د سرطان جراح به ویني. جراح معمولا ستاسو په سیمه ایز روغتون کې کار کوي. که تاسو غواړئ نو کولی شئ له جراح څخه د هغوی د تجربې په اړه وپوښتئ.

که تاسو لږ عادي سرطان لرئ، تاسو ممکن یو جراح د سرطان په تخصصي روغتون کې ووینئ. دا ممکن له هغه ځایه چې تاسو هلته اوسیږئ لا ډیر لرې وي.

## تاسو جراحي عملیاتو ته اړتیا ولې لرئ؟

جراحي د سرطان د تشخیص یا درملنې لپاره کارېدلی شي:

**تشخیص**

جراحي ډاکتر به ممکن د سرطان یوه کوچنۍ ټوټه لرې کړي. دې ته بایوپسي وايي. دا له ډاکترانو سره مرسته کوي چې معلومه کړي چې دا غه کوم ډول سرطان دی.

### مرحله بندي

مرحله بندي هغه وخت ته ویل کیږي کله چې ډاکټران ګوري چې سرطان څومره لوی دی او ایا دا د بدن نورو برخو ته خپور شوی دی یا نه. د سرطان په مرحلې پوهیدل د ډاکټرانو سره ستاسو د علاج په پلان کولو کې مرسته کولی شي.

په مرحله بندی کې معمولاً د ځینو سکېنونو کول شامل وي. بیلابیل ډولونه سکېنونه یا انځور اخیستنې شتون لري. ستاسو ډاکټر یا نرس به تاسو ته ووایي چې تاسو کوم ډول سکېن ته اړتیا لرئ او څه تمه باید ولرئ.

که ستاسو جراح نشي کولی تومور په سکېن کې ومومي، تاسو به ممکن نورو ټیسټونو ته اړتیا ولرئ. په دې ټیسټونو کې کولی شي د ځانګړي آلې په کارولو سره د بدن دننه کتل شامل وي چې دغه آله په پای کې څراغ او کیمره لري. دا په دوو لارو سره ترسره کیدی شي:

- دا وسیله د معدې (خیټې) د یوه کوچنی سوري څخه تیریږي. دا جراحی د کوچني سوري په نوم پیژندل کیږي.
- دا وسیله ستاسو بدن ته د طبیعي سوري له لارې لیږدول کیږي. د مثال په توګه، دغه آله ستاسو خولې ته، بیا له ستوني څخه ښکته، او د نس (نسایي سیمې) خوا ته ننویستل کېږي.

نرس یا ډاکټر ممکن تاسو ته داسې دوا درکړي چې آرامه مو کړي. هغوی ممکن ستاسو د ستوني شاته ځانګړی مایع وشیندي ترڅو تاسو هېڅ احساس و نه کړئ.

### درملنه

جراحي د دې لپاره کیږي چې تومور او شاوخوا هغه عادي ښکاریدونکي نسجونه لرې کړي چې کیدای شي د سرطان حجرې لري. جراحي کیدای شي د هغو سرطاني حجرو د لرې کولو لپاره هم وکارول شي چې د بدن بلې برخه ته خپرې شوې وي.

ځینې وختونه نورې درملنې، لکه کیموتراپي او رادیوتراپي، له جراحي څخه مخکې ورکول کیږي ترڅو تومور کوچنی کړي. دا ممکن پدې معنی وي چې لږې جراحی ته اړتیا وي:

- **کیموتراپي** - دا د سرطان درملنه ده چې په دې کې د سرطان حجرې د له منځه وړلو لپاره درمل کارول کیږي.
- **رادیو تراپي** - د سرطان هغه درملنه ده چې په دې کې د حجرو د وژلو لپاره د لوړې انرژۍ لرونکي شعاګانې کارول کیږي.

د هر ډول درملنې دمخه، د ډاکټرانو او نورو روغتیا پاملرنې متخصصینو یو ګروپ به ناسته وکړي ترڅو ستاسو د وضعیت په اړه خبرې وکړي. په دې سره دا ډاډ ترلاسه کیږي چې تاسو تر ټولو ښه درملنه ترلاسه کوئ. د ناستې وروسته به ستاسو جراح یا نرس ستاسو سره د درملنې د انتخابونو په اړه خبرې اترې وکړي.

### بیا رغونه

د بیا رغونې معنی دا ده چې د جراحي له لارې د بدن نوې برخه جوړه شي. دا ممکن د بدن په ښه فعالیت کولو کې مرسته وکړي، مثلاً که مثانه لیرې شوې وي نو نوې مثانه به جوړه کړل شي. په بیا رغونه کې د بدن د یوې برخې بڼه هم بېرته جوړېدی شي. د بېلګې په توګه، د سینې بیا رغونه کولای شي د سینې د لرې کولو (ماسټېکټومي) تر جراحي وروسته نوې بڼه رامنځته کړي.

### د علاماتو کنټرولول

ځینې وختونه نشي کیدی چې سرطان په بشپړه توګه لیرې شي. په دې حالت کې، جراحي اکثره وخت لا هم کولای شي نښې نښانې کنټرول کړي او د ناروغ حالت ښه کړي.

## ایا جراحي عملیات کولی شي سرطان ختم کړي؟

د جراحي موخه اکثرا د سرطان د درملنې هڅه کول وي. مګر دا کیدی شي تل ممکن نه وي. دا کېدای شي ځکه وي چې تومور لري کول ډېر ستونزمن وي، یا دا چې سرطان د بدن نورو برخو ته ډېر خپور شوی وي.

کله ناکله سرطان دومره کوچنی وي چې موندل یې مشکل وي. د حجرو خورا کوچني ګروپونه د جراح لخوا نشي لیدل کیدی او دا تل په سکېنونو کې نه ښکاري.

که چیرې دا خطر شتون ولري چې د سرطان ځینې حجرې کیدی شي پاتې شي، ستاسو ډاکټر ممکن تاسو ته د جراحي وروسته د نورو درملنو تجویز وکړي، لکه کیموتراپي. دا کولی شي په راتلونکي کې د سرطان د بیرته راګرځیدو خطر په راکمولو کې مرسته وکړي.

د سرطان په ځینې ډولونو کې جراحي کول ممکنه نه وي. په دې حالت کې، تاسو ممکن نورو درملنو ته اړتیا ولرئ.

## د جراحي عملیاتو په دوران کې څه پیښیږي؟

جراح به سرطان او د هغې شاوخوا د عادي ښکاره کېدونکي نسج برخه لرې کړي. دا به پدې معنی وي چې لږ احتمال شتون لري چې د سرطان حجرې پاتې شوي وي. دا د سرطان د بیرته راګرځیدو خطر کمولو کې مرسته کوي.

له جراحي وروسته، ستاسو ډاکټر به نسج د مایکروسکوپ تر لاندې وګوري. دوی به دا ډاډ ترلاسه کړي چې د تومور شاوخوا ساحه د سرطان حجرې نلري.

**لمفاوي غدې**

لمفاوي غدې د لمفاټیک سیسټم برخه ده. دا موږ له انتان او ناروغۍ څخه په خوندي ساتلو کې مرسته کوي.




**د لیمفاټیک سیسټم**

جراح ممکن ځینې هغه لمفاوي غدې لرې کړي چې سرطان ته نږدې وي. دا څکه چې د سرطان حجرې کولی شي لمفاوي غدو ته خپور شي. که چیرې لمفاوي غدې د سرطان حجرې ولري، دا کولی شي چې د سرطان د بیرته راګرځیدو خطر زیات کړي.

لیرې شوي لمفاوي غدې د جراحي وروسته ټیسټ کېږي. که چیرې دا غدې د سرطان حجرې ولري، تاسو به ممکن یو ډاکټر ته راجع شئ چې د آنکولوژیسټ په نوم یادیږي. آنکولوژیسټ د سرطان متخصص ډاکټر وي چې د سرطان د درملنې لکه راډیوتراپي، کیموتراپي او نورو د سرطان ضد درملو کې مهارت لري. هغوی به له تاسو سره د نورو هغه درملنو په اړه خبرې وکړي چې دا خطر کمولی شي.

### د کوچني سوري جراحي (لاپروسکوپي)

د کوچني سوري جراحي (لاپروسکوپي) د پورتني او ښکته نس په برخو کې د عملیاتو لپاره کارول کېدای شي.

په دې ډول جراحي کې، د یوه لوی پرېکړې پر ځای په بدن کې واړه سوري وکړل شي. جراح د پوستکي د یوې کوچنۍ ټوټې له لارې د تومور لرې کولو لپاره یوه آله کاروي. ځینې وختونه ماشین دغه آله نیسي. جراح ماشین چلوي. دې ته روبوټیکه جراحي ویل کیږي.

د کوچني سوري جراحي یو کوچنی زخم پرېږدي، نو خلک ژر رغېږي.

### پرانیستې جراحي

پرانیستې جراحي هغه جراحي ده چې په کې جراح یوه لویه برخه پرې کوي. دا په دې معنا چې جراح کولای شي سرطان یا د بدن هغه برخې وویني چې باید لرې شي.

ځینې وختونه اړتیا وي چې له یوې زیاتې لویې برخې پرېکړې کړل شي. د بېلګې په توګه، د سینې په جراحي کې هغوی ممکن په تخرګ (اکسیلا) کې هم یوه برخه پرې کړي څو لمفاوي غدې هم لرې کړي.

## ستاسو له عملیاتو دمخه

تاسو به معمولاً د عملیاتو نه وړاندې د ځینو معایناتو لپاره روغتون ته ځئ. دا د عملیاتو مخکې ارزونه بلل کیږي. دا ټېستونه د دې ډاډ ترلاسه کولو لپاره کیږي چې تاسو د جراحي لپاره روغ او چمتو یاست. نرس به ستاسو د صحي تاریخچې په اړه او که تاسو کوم حساسیت لرئ پوښتنه وکړي. دا مهمه ده چې دوی ته د هر هغه درملو په اړه وو ایاست چې تاسو یې اخلئ، په شمول د بوټو درملنې یا اضافي درملو. هغوی به ستاسو سره ستاسو د عملیاتو او د دې لپاره د چمتووالي په اړه هم خبرې وکړي.

نرس به ستاسو وزن وګوري، ستاسو د وینې فشار، د زړه ضربان، د اکسیجن کچه او تودوخه به وڅاري.

په نورو ټېستونو کې ممکن دا شامل وي:

- د وینې او متیازو ټېستونه
- د امیندوارۍ ټېسټ
- د دې لپاره ټېستونه چې ستاسو سږي څومره ښه کار کوي
- د دې لپاره ټېسټ چې ستاسو زړه څومره ښه کار کوي (الیکتروکاردیوګرام).

کوم ټېستونه چې تاسو کوئ هغه پر دې پورې تړاو لري چې تاسو کوم ډول عملیات کوئ او دا چې ایا تاسو نورې روغتیایي ستونزې هم لرئ که نه.

## رضایت ورکول

دا مهمه ده چې تاسو د خپل عملیات په اړه په هرڅه پوه شئ. تاسو باید د عملیاتو دمخه له خپل جراح سره د خبرو کولو توان ولرئ. کله چې تاسو د جراح سره خبرې کوئ، نو دا ښه نظر دی چې یو څوک له ځان سره بوځئ چې ستاسو په ژبه او انګلیسي دواړو خبرې کوي. په روغتون کې شاید ژباړونکي شتون ولري، مګر که چیرې اړتیا لرئ نو کوښښ وکړئ چې له مخکې څخه د یو غوښتنه وکړئ.

تاسو اړتیا لرئ یوه فورمه لاسلیک کړئ ترڅو خپل رضایت څرګند کړئ چې تاسو د عملیاتو سره موافق یاست. دې ته د رضایت ورکول وایي. د رضایت فورمې باید ستاسو په ژبه پښتو کې شتون ولري. تاسو نشئ کولی پرته له دغو فورمو عملیات وکړئ.

د جراحي په اړه ځیني اندېښني لرل طبیعي خبره ده. کورنی او ملګري هم ممکن اندیښمن شي. د خپل ډاکټر یا نرس سره خبرې کولی شي مرسته وکړي. هغوی ستاسو د پوښتنو ځواب درکولی شي.

## بې هوښي ورکول

ځینو کسانو ته د عملیاتو لپاره عمومي بې هوښي ورکول کېږي. دا په دې معنی چې یو ډاکټر چې بې هوښي ورکوونکی (انستیزیولوجیست) بلل کېږي، تاسو ته داسې درمل درکوي چې د جراحي پر مهال ویده پاتې شئ.

بې هوښي ورکوونکی ستاسو پاملرنه کوي کله چې تاسو ویده یاست او همدا راز کله چې له بې هوښی راووځئ. هغوی ممکن د جراحي نه وړاندې هم ستاسو معاینه وکړي، څو ډاډ ترلاسه کړي چې تاسو ته بې هوښي درکول خوندي دي. د بې هوښی ډاکټران د درد درمل هم ورکوي.

ځیني کسانو ته ممکن ایپډورال یا د ملا د ستنې بې حس کوونکي درمل ورکړل شي. دا یوه ستن وي چې ستاسو د شا په برخه کې وهل کېږي. دا د بدن د ښکته برخې د جراحي لپاره کارول کېدای شي. تاسو به ویښ یاست، خو هېڅ احساس به نه لرئ. تاسو ته معمولاً داسې درمل هم درکول کېږي چې تاسو ته خوب او آرامي راولي.

ځیني کسان چې کوچنی عملیات کوي، ښایي یوازې ځایي بې هوښی ته اړتیا ولري. دا په دې معنی چې درمل د بدن یوه کوچنی برخه بې حسه کوي، څو تاسو هېڅ احساس ونه کړئ.

## ستاسو د عملیاتو په ورځ

ستاسو د عملیاتو په ورځ چې څه پیښیږي، هغه په دې پورې اړه لري چې تاسو کوم ډول جراحي کوئ. که د جراحی لپاره څه چمتووالي ته اړتیا وي نو تاسو ته به وویل شي.

له تاسو به شاید وپوښتل شي، چې:

- د جراحی دمخه هیڅ شی مه خورئ یا مه څښئ
- هر ډول زیورات یا فلزي شیان لرې کړئ
- هر ډول نیل پالیش یا میک اپ لرې کړئ
- د عملیاتو په سهار ولامبئ.

نرس ممکن له تاسو څخه وغواړي چې د عملیات دمخه د بدن ویښتان له ساحې څخه لرې کړي. دوی به تاسو ته ووایي چې تاسو باید څه وکړئ. د بدن ویښتان یوازې د اړتیا په صورت کې لرې کیږي. دغه د یو ځل مصرفه پاکې په کارولو سره ترسره کیږي. ویښتان به له عملیات وروسته بیرته وده وکړي.

د جراحي ترسره کول کولی شي د وینې د ټوټې جوړولو خطر زیات کړي. د ځانګړو فشاري جرابو اغوستل کولی شي دا خطر کم کړي. په روغتون کې د وارډ نرسان به ستاسو پښې اندازه کړي څو سم سایز جرابې درته برابرې کړي او درسره یې په اغوستو کې مرسته وکړي. تاسو به دا جرابې د خپلې جراحی پر مهال او له هغې وروسته اچولې وي.

معمولاً، د عملیاتونه لږ مخکې به ستاسو څخه وغوښتل شي چې خپلې عینکې، د سترګو لینزونه یا د غاښونو مصنوعي ژامې لیرې کړئ. نرسان به دا خوندي وساتي، او تاسو به وکولای شئ چې له بیداریدو وروسته یې بیا واچوئ.

مخکې له دې چې د عملیاتو ځانګې (تیاتر) ته ولاړ شئ، تاسو به ځانګړی لباس واغوندئ. ځینې وختونه کولی شئ خپل اندر ویئر اغوستلی پریږدئ.

کیدای شي تاسو د روغتون له خوا د یوې ټرالۍ په وسیله د عملیاتو ځانګې ته یوړل شئ، چې دا کار به د روغتون یو مامور ترسره کړي. له روغتون څخه به یو څوک ستاسو سره وي.

## ستاسو له عملیاتو وروسته

کله چې تاسو له جراحي وروسته په لومړی ځل بیدار شئ، ممکن ستړي یا خوبوړی یئ، نو ښه ده چې مخکې له مخکې پوه شئ چې څه تمه ولرئ.

نرس به ستاسو د وینې فشار معاینه کړي. تاسو ممکن احساس کړئ چې د وینې د فشار آله ستاسو مټ ټینګ نیولی دی. کله چې بیداریږئ، ممکن د اکسیجن ماسک ستاسو پر مخ وي.

ځینې پیپونه مو ممکن په بدن پورې تړل شوي وي. چې دا ممکن عبارت وي له:

- د مایعاتو ډرېپ به ستاسو رګ ته لګیدلی وي تر هغې چې تاسو وکولای شئ په عادي ډول خوراک څښاک پیل کړئ - دا ممکن څو ساعته یا څو ورځې وخت ونیسي
- په رګ کې یو کوچنی ټیوب څو تاسو ته د درد او بې حالۍ درمل درکړي - دا به تر هغه وخته وي څو تاسو د ټابلیټونو اخیستو ته چمتو شئ
- د عملیاتو پر ځای یو ټیوب لګول شوی وي څو اضافي مایعات یو کوچني بوتل ته وباسي - دا ټیوب معمولاً څو ورځو وروسته لرې کیږي
- یوه کوچنی ټیوب ستاسو مثانې ته لګول شوې وي څو ادرار (پیشاب) یوې کڅوړې ته وباسي. دې ته کاتیټر ویل کیږي.

### درد

دا عادي ده چې د جراحي وروسته یو څه درد ولرئ. دا معمولاً د درد له درملو سره ښه کنټرول کیدی شي. که تاسو کوم درد لرئ، نرس ته ووایاست چې پاملرنه مو وکړي.

درد به معمولاً د وخت په تیریدو سره ښه شي. که ستاسو درمل ستاسو درد نه ښه کوي، خپل ډاکټر ته یې وواياست. ممکن په درملو کې مو بدلون راولي.

### د ناروغۍ احساس کول یا ناروغه کیدل

که د خپل عملیاتو وروسته مو د ناروغۍ احساس وکړو، نرس ته وواياست چې ستاسو پاملرنه وکړي. دوی کولی شي تاسو ته د مرستې لپاره درمل درکړي.

### شاوخوا حرکت کول

تاسو باید د عملیاتو وروسته ژر تر ژره د بستر څخه د راپاڅیدو توان ولرئ. کېدای شي تاسو د دې له امله اندېښمن شئ، خو نرسان به ستاسو سره مرسته وکړي. شاوخوا حرکت کول به ستاسو په چټک رغېدو کې مرسته وکړي او د ستونزو، لکه د وینې ټپ یا د سینې د انتان خطر به کم کړي.

ځینې وخت تاسو ممکن د لوی عملیاتو وروسته د اوږدې مودې لپاره په بستر کې پاتې شئ. د ساه اخیستلو تمرینونه او د پښو تمرینونه کولی شي د جراحي عملیاتو وروسته د ستونزو خطر په کمولو کې مرسته وکړي. ستاسو نرس یا فزیوتراپیست به تاسو ته دا تمرینونه دروښيي. فیزیوتراپسټ یو مسلکي شخص دی چې د خلکو سره د ناروغۍ یا ټپ نه د رغېدو لپاره د حرکت یا تمرین له لارې مرسته کوي.

ستاسو د عملیاتو وروسته د یو څو ورځو لپاره، تاسو به ممکن د مینځلو او تشناب ته د تګ لپاره یو څه مرستې ته اړتیا ولرئ. که تاسو غواړئ چې له بل جنسیت یا جنسي توپیر لرونکي نرس څخه مرسته ترلاسه کړئ، نو له خپل نرس سره خبرې وکړئ.

هرڅوک له عملیاتو څخه په مختلف ډول روغ کیږي. تاسو ممکن وروسته د یو څه وخت لپاره د ستړیا احساس وکړئ. ځینې خلک ژر ښه احساس کوي، پداسې حال کې چې نور ممکن ډیر وخت ونیسي. دا د عملیات په هغه ډول پورې اړه لري چې تاسو یې لرئ.

### د زخم پاملرنه

ستاسو جراح به ستاسو زخم د کلیپونو یا ګنډلو په وسیله وتړي. د ګنډنې تارونه به په روغتون یا کور کې د ټولنې یا عملي کار د یوې نرس لخوا بیرته لرې کړل شي.

ځینې جراحان داسې تارونه کاروي کوم چې منحل کیږي او لیرې کولو ته اړتیا نه لري. کله چې ځای روغ شي تارونه پخپله ورک شي. ستاسو نرس به تاسو ته ووايي چې تاسو کوم ډول ګنډل (ستېچونه) لرئ.

کېدای شي ستاسو زخم د پېډ یا پټۍ په وسیله پټ کړل شي. نرس به درته ووايي چې د خپل زخم پاملرنه به څنګه کوئ. هغوی به تاسو ته د انتان د نښو پېژندلو په اړه هم خبر درکړي.

د انتان په نښو کې ممکن دا لاندې شامل وي:

- ګرمیدل، درد، پړسوب، سوروالی یا د پوستکي رنګ تورېدل. دا د ټپ پر سر، د داغ چاپېره، یا دواړو ځایونو کې کیدی شي.
- له ټپ څخه وتونکی مایع (ترشح)، چې ممکن بوی کوي
- تبه، چې د بدن تودوخه په کې له 37.5°C یا 99.5°F څخه لوړه وي
- یخنی او لړزه احساسول
- په عمومي ډول ناروغ احساسول، حتی که تودوخه عادي هم وي.

که تاسو د کومې ناروغۍ نښې لرئ، نو سمدستي له خپل ډاکټر یا نرس سره په هغه شمېرې اړیکه ونیسئ چې تاسو ته درکړل شوې ده.

هغوی به ستاسو د ټپ معاینه وکړي او ممکن د ټپ څخه نمونه (سواب) واخلي او د ټېسټ لپاره یې ولېږي. هغوی ممکن انټي بیوټیک درته تجویز کړي.

### داغونه

ستاسو داغونه به ممکن په اول وخت کې د خارښت احساس کوي. که ستاسو پوست سپین وي، نو دا به سره ښکاري، او که تور یا نسواري پوست لرئ، نو دا به توره یا تیاره رنګ لري. که څه هم داسې ممکن تل پیښ نشي، خو د وخت په تیریدو سره به دا معمولاً له منځه ولاړ شي.

## اوږدمهاله اغیزې

ډیری خلک له جراحۍ څخه ښه کیږي، مګر ځینې خلک اوږدمهاله ستونزې لري. ډاکټران یا نرسان باید ستاسو سره ستاسو د عملیاتو دمخه پدې اړه خبرې وکړي، ترڅو وپوهیږئ چې د څه تمه تري ولرئ. که تاسو د دې ستونزو په اړه اندیښمن یاست، د خپل ډاکټر یا نرس سره خبرې وکړئ. معمولاً داسې شیان شتون لري چې مرسته کولی شي.

### زیږون

ځینې عملیات کولی شي ستاسو په زیږون اغیزه وکړي، لکه ستاسو د رحم لرې کول. که تاسو په دې اړه اندیښمن یاست، مخکې له دې چې ستاسو درملنه پیل شي د خپل ډاکټر یا نرس سره خبرې وکړئ.

### لیمفوډیما (lymphoedema)

که ستاسو لمفاوي غدې لیرې شوې وي، نو کېدای شي پړسوب رامنځته شي چې ورته لمفوډیما ویل کېږي. لمفاوي غدې له بدن څخه مایعات وچوي. د دې لرې کول کیدی شي د مایعاتو د رامینځته کیدو لامل شي. دا د مثال په توګه په لاس یا پښه کې رامنځته کیدای شي چیرې چې لمفاوي غدې لرې شوې وي. که په پړسوب باندې یې پوه شوئ، د خپل ډاکټر سره اړیکه ونیسئ. دا مهمه ده چې ژر تر ژره یې علاج وکړئ.

### د تناسلي اړیکو اختلال (د نعوظ ستونزه)

په هغو کسانو کې چې د زیږون پر مهال نارینه ټاکل شوي وي، د پروسټاټ غدې د لیرې کولو جراحي ممکن د مثانې ستونزې یا د نعوظ د ترلاسه کولو ستونزې رامنځته کړي. دې ته تناسلي اختلال ویل کیږي.

## فزيکي او عاطفي بدلونونه

د عملياتو وروسته بيا رغيدل يو څه وخت نيسي. ډيری خلک دې د دې لامله مايوسه کيږي. کله چې د ستړي کيدو احساس کوئ دا مهمه ده چې آرام وکړئ. هڅه وکړئ چې په تدريجي ډول خپل څواک زيات کړئ. کله چې کولی شئ، نرم تمرين کول لکه لنډ مزل کولی شي تاسو ته ډيره انرژي درکړي.

ځينې خلکو ته ممکن د جراحۍ وروسته له بدلونو سره ځان اعيارول ستونزمن شي.

ځينې عمليات ستاسو د بدن بڼه يا ستاسو د بدن د کار کولو طريقه بدلوي. دا بدلونونه کيدای شي تاسو ته د خپګان احساس درکړي. دوی کولی شي په هغې طريقې باندې اغيزه وکړي چې تاسو يې د خپل ځان په اړه احساس کوئ.

که تاسو دغه ډول احساس کوئ دلته ډيری ملاتړ شتون لري، مهرباني وکړئ د خپل نرس يا ډاکټر سره خبرې وکړئ. دوی بايد وکولی شي چې ستاسو سره مرسته وکړي يا ستاسو لپاره د مشاور سره د ليدو لپاره ملاقات تنظيم کړي. مشاور يو مسلکي کس وي چې روزنه يې ترلاسه کړې وي څو د خلکو سره د دوی د احساساتي يا شخصي ستونزو په حل کې مرسته وکړي. تاسو کولی شئ د مېکميلن (Macmillan) د ملاتړ له کرښې سره هم وړيا اړيکه په 0808 808 00 00 ونيسئ او زموږ د نرس سره خبرې وکړئ. که اړتيا ولرئ، نو تاسو کولای شئ د ژباړونکي غوښتنه وکړئ.

## د خپل ځان لپاره مناسبه پاملرنه او ملاتړ ترلاسه کول

که تاسو سرطان لرئ او په انګليسي ژبه خبرې نه شئ کولی، تاسو ښايي انديښنه ولرئ چې دا به ستاسو د سرطان په درملنه او پاملرنه باندې اغېز وکړي. مګر ستاسو د روغتيا پالنې ټيم بايد تاسو ته داسې پاملرنه، ملاتړ او معلومات وړاندې کړي چې ستاسو اړتياوې پوره کړي.

موږ پوهېږو چې ځينې وختونه خلک ښايي د سم ملاتړ په ترلاسه کولو کې د اضافي ننګونو سره مخ شي. د مثال په توګه، که تاسو کار کوئ يا کورنۍ لرئ، تاسو ممکن د پيسو او ټرانسپورټ د لګښتونو په اړه هم انديښنه ولرئ. دغه ټول شيان ذهني فشار رامنځ ته کوي او مبارزه ورسره سخته وي.

## مېکميلن (Macmillan) له تاسو سره څنګه مرسته کولی شي

په مېکميلن (Macmillan) کې، موږ پوهېږو چې د سرطان تشخيص څنګه کولای شي په هر څه باندې اغېز وکړي، او موږ دلته ستاسو د ملاتړ لپاره موجود يو.

### د مېکميلن (Macmillan) ملاتړ لاين

موږ ترجمانان لرو، او تاسو کولی شئ زموږ سره په خپله ژبه خبرې وکړئ. په هره ژبه چې تاسو پرې خبرې کول غواړئ موږ ته خپله دغه غوښتنه په انګليسي ژبې وو اياست.

زموږ د مېکمیلن (Macmillan) ملاتړ لیکي ماهر مشاورین کولای شي له تاسو سره په طبي پوښتنو کې مرسته وکړي، یا که تاسو اړتیا لرئ له چا سره خبرې وکړئ، نو هغوی به هلته موجود وي. موږ کولای شو له تاسو سره د مالي اندېښنو په اړه هم خبرې وکړو او نور هغه ګټور سازمانونه تاسو ته وښایو چې مرسته درسره کولی شي. د تلیفون وړیا او محرمه لیکه په اونۍ کې 7 ورځې د سهار له 8 بجو څخه د شپې تر 8 بجو پورې پرانیستې ده. له موږ سره په 00 00 808 0808 اړیکه ټینګه کړئ.

### د مېکمیلن (Macmillan) ویب پاڼه

زموږ ویب پاڼه د سرطان په هکله په انګلیسي ژبه ډېر معلومات لري. دلته macmillan.org.uk/translations په نورو ژبو کې لا ډېر معلومات شته.

موږ ممکن ستاسو لپاره د ژباړې د خدماتو ترتیب هم برابر کړو. د هغه څه په اړه چې اړتیا ورته لرئ، موږ ته په informationproductionteam@macmillan.org.uk باندې برېښنالیک واستوئ.

### د معلوماتو مرکزونه

زموږ د معلوماتو او ملاتړ مرکزونه په روغتونونو، کتابتونونو او د تلیفون په مرکزونو کې موجود دي. د اړتیا وړ معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره زموږ یو معلوماتي مرکز ته مراجعه وکړئ او د یوه اړوند شخص سره مخامخ خبرې وکړئ. خپل تر ټولو نږدې مرکز په macmillan.org.uk/informationcentres کې ومومئ یا موږ ته په 00 00 808 0808شمېره زنګ ووهئ.

### د ملاتړ سیمه ایز ګروپونه

د ملاتړ په ګروپ کې، تاسو کولا شئ له نورو هغو خلکو سره خبرې وکړئ چې له سرطان څخه اغېزمن شوي دي. ستاسو په سیمه کې د ملاتړو ډلو په اړه دلته macmillan.org.uk/supportgroups ومومئ یا له موږ سره په 00 00 808 0808 شمېره اړیکه ونیسئ.

### د مېکمیلن (Macmillan) آنلاین ټولنه

تاسو کولی شئ د سرطان څخه اغېزمنو نورو خلکو سره آنلاین په macmillan.org.uk/community هم خبرې وکړئ.

تاسو کولای شئ د ورځې یا شپې هر مهال دې ټولنې ته لاسرسی ومومئ. تاسو کولای شئ خپلې تجربې شریکې کړئ، پوښتنې وکړئ، یا فقط د خلکو پوستونه ولولئ.

## ستاسو په ژبه کې نور معلومات

موږ د دغو موضوعاتو په هکله ستاسو په ژبه کې معلومات لرو:

### د سرطان نښې او علایم

- د نښو او علایمو کارتونه

### که تاسو کې د سرطان تشخیص وشي

- په انګلستان کې د سرطان پاملرنه
- د کډوالو او پناه غوښتونکو خلکو لپاره روغتیا پالنه
- که تاسو کې د سرطان تشخیص وشي

### د سرطان ډولونه

- د کولمو سرطان
- د سینې سرطان
- د رحم د خولې سرطان
- د سږي سرطان
- د پروستات سرطان

### د سرطان لپاره درملنه

- کیموتراپي
- راډیوتراپي
- سېپسېس او سرطان
- د سرطان د درملنې جانبي عوارض
- جراحي عملیات

### د سرطان سره ژوند کول

- کله چې تاسو سرطان ولرئ نو د ګټو ادعا کول
- د خوړلو ستونزې او سرطان
- سالم خوراک کول
- د سرطان لرلو پرمهال په لګښتونو کې مرسته
- LGBTQ+ خلک او سرطان
- سټریا (ستوماني) او سرطان

### د ژوند پای

- د ژوند پای

د دغو معلوماتو د کتلو لپاره، macmillan.org.uk/translations ته مراجعه وکړئ

د معلوماتو د پوهېدو لپاره د نورو ملاتړ لپاره،
macmillan.org.uk/understandinginformation ته لاړ شئ

## مأخذونه او مننې

دغه معلومات د مکمیلن کېنسر ملاتړ (Macmillan Cancer Support) د سرطان د معلوماتي پراختیا د ټیم په واسطه لیکل او تحریر شوي دي. دا د ژباړې شرکت لخوا ستاسو په ژبه ژباړل شوي.

دا ورکړل شوي معلومات زموږ د سینې د هغه محتویاتو پر اساس دي چې په انګلیسي ژبه یا زموږ په وېب پاڼه موجود دي.

دا معلومات د اړوندو متخصصینو لخوا بیاکتل شوي او د مکمیلن د کلینیکي تخصص مرکز (Macmillan's Centre of Clinical Expertise) غړو لخوا تصویب شوي.

له هغو خلکو څخه هم ډېره مننه چې د سرطان له امله اغېزمن شوي دي چا چې د دغو معلوماتو بیاکتنه کړې ده.

زموږ ټول معلومات د غوره شته شواهدو پر اساس دي. د سرچینو په اړه د لا ډېرو معلوماتو لپاره له موږ سره په informationproductionteam@macmillan.org.uk پته اړیکه ټینګه کړئ.

 د مېکمیلن (Macmillan) معلوماتي پاڼه 2024: جراحي

**منځپانګه بیا کتل شوې: 2024**

**راتلونکي پلان شوي بیاکتنه: 2027**

MAC12466_Pashto_E04

مونږ هره هڅه کوو ترڅو ډاډ ترلاسه کړو چې هغه معلومات چې مونږ یې چمتو کوو دقیق او تازه وي مګر دا باید ستاسو د وضعیت سره سم د مسلکي مشورې د بدیل په توګه ونه کارول شي. تر هغه ځایه چې د قانون لخوا اجازه ورکړل شوې، مېکمیلن (Macmillan) په دې خپرونه کې د هر ډول معلوماتو د کارولو یا د دریمې ډلې معلوماتو یا په ویب کې د شامل شوو معلوماتو د کاروني مسئولیت په غاړه نه مني.

د مکمیلن کېنسر ملاتړ 2025 (© Macmillan Cancer Support)، په انګلستان او ویلز (261017)، سکاټلینډ (SC039907) او آئل آف مین (604) کې ثبت شوې خیریه موسسه. په شمالی ایرلینډ کې هم فعالیت کوي. د ضمانت په واسطه محدود المسئولیت کمپني، چې په انګلستان او ویلز کې په 2400969 شمېره ثبت شوې کمپني ده. د Isle of Man شرکت شمیره 4694F. راجستر شوی دفتر: 3rd Floor, Bronze Building, The Forge, 105 Sumner Street, London, SE1 9HZ VAT شمېره: 668265007

Trusted Information Creator

Patient Information Forum

# Surgery: English

This information is about surgery (having an operation).

Many people with cancer will have surgery as part of their treatment.

It might not be the only treatment you need. Some people might have other cancer treatments such as chemotherapy or radiotherapy. Doctors at the hospital will talk to you about your treatment.

If you have any questions about this information, ask your doctor or nurse at the hospital where you are having treatment.

You can also call Macmillan Cancer Support on freephone **0808 808 00 00**, 7 days a week, 8am to 8pm. We have interpreters, so you can speak to us in your own language. When you call us, please tell us in English which language you need.

There is more cancer information in this language and other languages at macmillan.org.uk/translations

This information is about:

- What is cancer?
- Your surgeon
- Why do you need surgery?
- Can the surgery cure the cancer?
- What happens during surgery?
- Before your surgery
- Giving consent
- Having an anaesthetic
- On the day of your operation
- After your operation
- Long-term effects
- Physical and emotional changes
- Getting the right care and support for you
- How Macmillan can help you
- More information in your language
- References and thanks

## What is cancer?

Cancer starts in our body's cells. Cells are the tiny building blocks that make up the organs and tissues of our body. Usually, these cells split to make new cells in a controlled way. This is how our bodies grow, heal and repair. Sometimes, this goes wrong, and the cell becomes abnormal. The abnormal cell keeps splitting and making more and more abnormal cells. These cells form a lump called a tumour.



Normal cells    Cells forming a tumour

Not all tumours are cancer. There are 2 main types of tumours:

- **benign** - these tumours are not cancer. They cannot spread to anywhere else in the body.
- **malignant** - these tumours are cancer. They can grow into other areas of the body.

The place where the cancer first begins to grow is the primary cancer. The primary cancer is named after the place in the body where it started, for example bowel cancer.

Sometimes, primary cancer cells spread to other parts of the body through the blood and the lymphatic system. This is called secondary cancer.

The lymphatic system helps protect us from infection and disease. It is made up of fine tubes called lymphatic vessels. These vessels connect to groups of small lymph nodes throughout the body.

## Your surgeon

The doctor who does your operation is called a surgeon. It is important to see the right surgeon for your type of cancer. For example, someone with breast cancer will see a breast surgeon. The surgeon usually works at a hospital local to you. You can ask the surgeon about their experience if you want to.

If you have a less common cancer, you may need to see a surgeon at a specialist cancer hospital. This may be further away from where you live.

## Why do you need surgery?

Surgery can be used to diagnose or treat cancer:

### Diagnosis

The surgeon may remove a small piece of the cancer. This is called a biopsy. It helps doctors find out what type of cancer it is.

### Staging

Staging is when doctors look at how big a cancer is and whether it has spread to any other parts of the body. Knowing the stage of the cancer can help doctors to plan your treatment.

Staging usually involves having some scans. There are different types of scans. Your doctor or nurse will explain which ones you might need and what to expect.

If your surgeon cannot see the tumour on a scan, you may need other tests. These tests could involve looking inside the body using a special tool with a light and a camera on the end. This can be done in 2 ways:

- the tool is passed through a small cut in the tummy (abdomen). This is known as keyhole surgery.
- the tool is passed through a natural opening to your body. For example, the tool is passed into your mouth, down your throat and into your tummy area (abdomen).

The nurse or doctor may give you medicine to help you relax. They may also spray the back of your throat with a special liquid to stop you feeling anything.

### Treatment

Surgery is used to try to remove the tumour and some normal-looking tissue around it which might contain cancer cells. Surgery might also be used to remove cancer cells that have spread into another part of the body.

Sometimes other treatments, such as chemotherapy and radiotherapy, are given before surgery to make the tumour smaller. This may mean that less surgery is needed:

- **chemotherapy** – this is a cancer treatment that uses drugs to kill cancer cells.
- **radiotherapy** – this is a cancer treatment that uses high-energy x-rays to kill cancer cells.

Before any treatment, a group of doctors and other health care professionals will meet to discuss your situation. This helps to make sure you are getting the best treatment. After the meeting, your surgeon or nurse will talk to you about your treatment options.

### Reconstruction

Reconstruction means having surgery to make a new body part. This may help the body to work better, for example by making a new bladder if it has been removed. Reconstruction can also restore the appearance of a part of the body. For example, breast reconstruction can create a new breast shape after surgery to remove a breast (mastectomy).

### Controlling symptoms

Sometimes cancer cannot be completely removed. In this case, surgery can often still help to control symptoms and make someone feel better.

## Can the surgery cure the cancer?

The aim of surgery is often to try to cure the cancer. But this may not always be possible. This may be because the tumour is too difficult to remove, or because the cancer has spread too much into other parts of the body.

Sometimes the cancer is too small to find. Very small groups of cells cannot be seen by the surgeon and they don't always show up on scans.

If there is a risk that some cancer cells could be left behind, your doctor may suggest you have other cancer treatments after surgery, such as chemotherapy. This can help to reduce the risk of cancer coming back in the future.

For some cancers, surgery is not possible at all. In this case, you may have other cancer treatments.

## What happens during surgery?

The surgeon will remove the cancer and an area of normal-looking tissue around it. This will mean it is less likely that any cancer cells have been left behind. This helps to reduce the risk of the cancer coming back.

After your surgery, your doctor will look at the tissue under a microscope. They will make sure the area around the tumour does not contain any cancer cells.

**Lymph nodes**
Lymph nodes are part of the lymphatic system. This helps to protect us from infection and disease.




**The lymphatic system**

The surgeon may remove some lymph nodes close to the cancer. This is because cancer cells can spread to lymph nodes. If the lymph nodes contain cancer cells, this can increase the risk of the cancer coming back.

The removed lymph nodes are tested after surgery. If they contain cancer cells, you may be referred to a doctor called an oncologist. An oncologist is a cancer doctor who is an expert in cancer treatments such as radiotherapy, chemotherapy and other anti-cancer drugs. They will talk to you about other treatments that could reduce this risk.

### Keyhole surgery (laparoscopic)

Keyhole surgery (laparoscopic) can be used to operate in the upper and lower tummy areas.

In this type of surgery, small openings are made in the body instead of 1 large cut. The surgeon uses an instrument to remove the tumour through a small cut in the skin. Sometimes a machine holds the tools. The surgeon operates the machine. This is called robotic surgery.

Keyhole surgery leaves a smaller wound, so people recover more quickly.

### Open surgery

Open surgery is when the surgeon makes 1 large cut. This means the surgeon can see the cancer or parts of the body that need to be removed.

Sometimes they need to make more than 1 cut. For example, in breast surgery, they may make another cut in the armpit area (axilla) so they can remove lymph nodes too.

## Before your operation

You will usually have a hospital appointment before the operation to have some tests. This is called a pre-operative assessment. The tests are to check you are well enough to have surgery. A nurse will ask about your medical history and if you have any allergies. It is important to tell them about any medicines you are taking, including any herbal remedies or supplements. They will also talk to you about your operation and how to get ready for it.

The nurse will weigh you and check your blood pressure, heart rate, oxygen level and temperature.

Other tests may include:

- blood and urine (pee) tests
- pregnancy test
- tests to check how well your lungs are working
- test to check how well your heart is working (electrocardiogram).

The tests you have will depend on what type of operation you are having, and whether you have any other health problems.

## Giving consent

It is important that you understand everything about your operation. You should be able to talk to your surgeon before your operation. When you speak to the surgeon, it is a good idea to take someone with you who speaks both your language and English. Interpreters may be available at the hospital but try to ask for one in advance if you would like one.

You will need to sign a form to say that you agree to have the operation. This is called giving consent. Consent forms should be available in your language. You cannot have an operation without one.

It is normal to have some concerns about having surgery. Friends or family might also feel worried. Talking to your surgeon or nurse can help. They can answer any questions you have.

## Having an anaesthetic

Some people are given a general anaesthetic for their operation. This means you are given drugs by a doctor called an anaesthetist that make you sleep during your surgery.

The anaesthetist cares for you while you are asleep and while you recover from the anaesthetic. They may also check you before surgery to make sure that you are safe to have an anaesthetic. Anaesthetists also give pain medication.

Other people might have an epidural, or spinal block. This is an injection into your back. This can be used for surgery in the lower half of the body. You are awake but you can't feel anything. You are usually also given some medicine to make you feel sleepy and relaxed.

Some people having a small operation may only need a local anaesthetic. This means that drugs are used to numb a small area of the body so you cannot feel anything.

## On the day of your operation

What happens on the day of your operation depends on which type of surgery you are having. You will be told if you need to do anything to prepare for your surgery.

You might be asked to:

- not eat or drink anything before your surgery
- remove any jewellery or metal objects
- remove any nail varnish or makeup
- have a shower or bath on the morning of your operation.

The nurse may ask you to remove the body hair from the area before the operation. They will tell you what you need to do. Body hair is only shaved if it is needed. It is done using a disposable razor. The hair will grow back after the operation.

Having surgery can increase the risk of a blood clot. Wearing special compression stockings can help reduce this risk. The nurses on the ward at the hospital will measure your legs to get the right size and help you put the stockings on. You wear them during and after your surgery

Just before your operation, you will usually be asked to remove your glasses, contact lenses or dentures. The nurses will keep them safe, and you can wear them again once you wake up.

Before you go to the operating department (theatre), you will change into a gown. You can sometimes leave your underwear on.

You may be taken to the operating department on a trolley by a hospital porter. Someone from the hospital ward will go with you.

## After your operation

You feel sleepy when you first wake up after surgery so it can help to know what to expect.

A nurse will check your blood pressure. You might feel the blood pressure monitor tighten on your arm. You may have an oxygen mask on your face while you wake up.

You may also have some tubes connected to your body. These could include:

- a drip of fluids into a vein until you can eat and drink normally – this may be a few hours or a few days
- a short, thin tube into a vein to give you medicines for pain and sickness – this is until you are able take tablets
- a tube where you had the operation to drain away fluid into a small bottle – this is usually removed after a few days
- a small tube passed into your bladder to drain urine (pee) into a bag. This is called a catheter.

### Pain

It is normal to have some pain after surgery. This can usually be well controlled with pain medicine. If you have any pain, tell the nurse looking after you.

The pain will usually improve over time. If your medicines are not helping with your pain, tell your doctor. They can make changes to your medicine.

### Feeling sick or being sick

If you feel sick after your operation, tell the nurse looking after you. They can give you medicines to help.

### Moving around

You should be able to get out of bed soon after your operation. You may feel worried about this but the nurses will help you. Moving around will help you recover more quickly and reduce the risk of problems such as a blood clot or chest infection.

Sometimes after a big operation you may have to stay in bed for a longer time. Breathing exercises and leg exercises can help reduce the risk of problems after surgery. Your nurse or a physiotherapist will teach you these exercises. A physiotherapist is a professional who helps someone use movement or exercise to recover from illness or injury.

For a few days after your operation, you may need some help to wash and go to the toilet. Speak to your nurse if you would prefer help from a nurse of a different sex or gender.

Everyone recovers from an operation differently. You might feel tired for some time afterwards. Some people feel better quickly, while others can take much longer. This depends on the type of operation you have had.

### Wound care

Your surgeon will close your wound with clips or stitches. These will be removed by a nurse at hospital or at home by a community or practice nurse.

Some surgeons use stitches that dissolve and don't need to be removed. These will disappear when the area heals. Your nurse will tell you which type of stitches you have.

You may have a pad or bandage to cover your wound. The nurse will tell you how to look after your wound. They will also talk to you about looking for signs of infection.

Signs of infection can include:

- heat, pain, swelling, redness or a darker change in skin colour. This can be over the wound, around the scar, or both
- fluid coming from the wound (discharge), which can smell
- a temperature above 37.5°C or above 99.5°F (a fever)
- feeling shivery and shaky
- feeling generally unwell, even with a normal temperature.

If you have any signs of infection, contact your doctor or nurse straightaway on the phone number you have been given.

They will look at the wound and may take a wound swab to send for testing. They may prescribe antibiotics.

### Scars

Your scar may feel itchy at first. It may be red if you have white skin, or a darker colour if you have black or brown skin. In time, it will usually fade, although this might not always happen.

## Long-term effects

Many people recover well from surgery, but some people have long-term problems. The doctors or nurses should talk to you about this before your operation, so you know what to expect. If you are worried about any of these problems, talk to your doctor or nurse. There are usually things that can help.

### Fertility

Some operations can affect your fertility, such as having your womb removed. If you are worried about this, talk to your doctor or nurse before your treatment starts.

### Lymphoedema

If your lymph nodes have been removed, you may get swelling called lymphoedema. The lymph nodes drain fluid out of the body. Removing them can cause fluid to build up. This can happen for example in an arm or leg near where the lymph nodes have been removed. Contact your doctor if you notice any swelling. It is important to treat it quickly.

### Erectile dysfunction

In people assigned male at birth, surgery to remove the prostate gland may cause bladder problems, or difficulty getting an erection. This is called erectile dysfunction.

## Physical and emotional changes

Recovering after an operation can take some time. Many people find this frustrating. It is important to rest when you feel tired. Try to increase your strength gradually. When you feel able to, doing gentle exercise such as a short walk can help give you more energy.

Some people can find it difficult to adjust to the different types of changes that surgery might bring.

Some operations change the way your body looks or the way your body works. These changes may cause you to feel upset. They could affect the way you feel about yourself.

There is a lot of support available, so please talk to your nurse or doctor if you feel this way. They should be able to help you or arrange for you to see a counsellor. A counsellor is a professional who is trained to help people cope with their emotions or personal problems. You could also call the Macmillan Support

Line free on **0808 808 00 00** and speak to one of our nurses. You can ask for an interpreter if you need one.

## Getting the right care and support for you

If you have cancer and do not speak English, you may be worried that this will affect your cancer treatment and care. But your healthcare team should offer you care, support and information that meets your needs.

We know that sometimes people may have extra challenges in getting the right support. For example, if you work or have a family you might also have worries about money and transport costs. All of this can be stressful and hard to cope with.

## How Macmillan can help you

At Macmillan, we know how a cancer diagnosis can affect everything, and we are here to support you.

**Macmillan Support Line**
We have interpreters, so you can speak to us in your language. Just tell us, in English, the language you want to use.

Our expert advisers on the Macmillan Support Line can help with medical questions or be there to listen if you need someone to talk to. We can also talk to you about your money worries and recommend other useful organisations that can help. The free, confidential phone line is open 7 days a week, 8am to 8pm. Call us on **0808 808 00 00**.

**Macmillan website**
Our website has lots of information in English about cancer. There is also more information in other languages at macmillan.org.uk/translations

We may also be able to arrange translations just for you. Email informationproductionteam@macmillan.org.uk to tell us what you need.

**Information centres**
Our information and support centres are based in hospitals, libraries and mobile centres. Visit one to get the information you need and speak with someone face to face. Find your nearest centre at macmillan.org.uk/informationcentres or call us on **0808 808 00 00**.

**Local support groups**
At a support group, you can talk to other people affected by cancer. Find out about support groups in your area at macmillan.org.uk/supportgroups or call us on **0808 808 00 00**.

**Macmillan Online Community**
You can also talk to other people affected by cancer online at macmillan.org.uk/community

You can access it at any time of day or night. You can share your experiences, ask questions, or just read people's posts.

## More information in your language

We have information in your language about these topics:

**Signs and symptoms of cancer**
- Signs and symptoms cards

**If you are diagnosed with cancer**
- Cancer care in the UK
- Healthcare for refugees and people seeking asylum
- If you are diagnosed with cancer

**Types of cancer**
- Bowel cancer
- Breast cancer
- Cervical cancer
- Lung cancer
- Prostate cancer

**Treatment for cancer**
- Chemotherapy
- Radiotherapy
- Sepsis and cancer
- Side effects of cancer treatment
- Surgery

**Living with cancer**
- Claiming benefits when you have cancer
- Eating problems and cancer
- Healthy eating
- Help with costs when you have cancer
- LGBTQ+ people and cancer
- Tiredness (fatigue) and cancer

**End of life**
- End of life

To see this information, go to macmillan.org.uk/translations

For more support to understand information, go to macmillan.org.uk/understandinginformation

## References and thanks

This information has been written and edited by Macmillan Cancer Support's Cancer Information Development team. It has been translated into this language by a translation company.

The information included is based on our Surgery explained content available in English on our website.

This information has been reviewed by relevant experts and approved by members of Macmillan's Centre of Clinical Expertise.

Thanks also to the people affected by cancer who reviewed this information.

All our information is based on the best evidence available. For more information about the sources we use, please contact us at informationproductionteam@macmillan.org.uk

**Content reviewed: 2024**

**Next planned review: 2027**

MAC12466_English_E04

We make every effort to ensure that the information we provide is accurate and up-to-date but it should not be relied upon as a substitute for specialist professional advice tailored to your situation. As far as is permitted by law, Macmillan does not accept liability in relation to the use of any information contained in this publication or third-party information or websites included or referred to in it.

© Macmillan Cancer Support 2025, registered charity in England and Wales (261017), Scotland (SC039907) and the Isle of Man (604). Also operating in Northern Ireland. A company limited by guarantee, registered in England and Wales company number 2400969. Isle of Man company number 4694F. Registered office: 3rd Floor, Bronze Building, The Forge, 105 Sumner Street, London, SE1 9HZ. VAT no: 668265007

Trusted Information Creator
Patient Information Forum